


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library




# به نام خداوند توانا


صاحب امتیاز : رادیو تلویزیون ملی

تحت نظر : داکتر عصمت اللهی ، الحاج محمد داوود، محمد حلیم تنویر، داکتر عبدالواحد نظری ، شمس راد ،عزیزالله اریافر

مدیر مسئول : لمیه احمدزی

مسئول تصحیح چاپ : عبدالقدیر صائم احمدی

موبایل : ۰۷۹۹۳۵۳۳۶۲

گرافیک و دیزاین : امان الله (جا و ید )

نشانی: وزیر محمد اکبرخان /سرک ۱۳ / ریاست عمومی رادیو تلویزیون ملی .

تیلفون :۲۱۰۳۱۶۴

تیراژ : ۱۰۰۰

آوزدر ویرایش و کوتاه کردن نوشته ها آزاد است.

چاپ : مطبعه آزادی




## در برگهای این شماره


- ۲- سخن نخست
- ۳- درادیو تلویزیون او سینما په برخه کی ...
- ۵- رویدادهای فرهنگی
- ۱۰ - مولوی دروح سفیر
- ۱۲- موسیقی هم حس میشود...
- ۱۴ - دافغانستان ملی رادیو..
- ۱۶- گوینده گی چیست ...
- ۱۸- ویژگی ...
- ۲۰-داستانی ژانرونه
- ۲۲-وظایف ورسالت...
- ۲۷- اشعار انتخابی ...
- ۳۰- سینما مستند..
- ۳۲- استاد عبدالغفور برشنا
- ۳۴- ددیری مجلسونه
- ۴۰- ابتکاروخلاقیت...
- ۴۴-پلان نشراتی


PROPERTY OF ACKU S 1102

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رسانهء ملی و رسالت ملی

رسانه ها در روز گار معاصر و به ویژه در جهان رو به انکشاف نه تنها نقش اطلاع رسانی، آموزشی و سرگرمی را دارند بلکه رسالت بزرگ پاسداری از ارزش ها و فرهنگ ملی و تلاش در راستای آن، همپا با گسترش دانش و تکنالوجی را نیز به دوش می کشند این رسالت در جامعهء چون افغانستان که سه دهه بحران را سپری نموده و تازه مشق دموکراسی می نماید، نهایت با ارزش بوده که در این میان رادیو تلویزیون، از اهمیت ویژه برخودار است در کشور افغانستان که بیش از ۹۰ در صد نفوس آن بیسواد است، نقش رادیو تلویزیون که توسط تصویر و صدا پیام ها را انتقال می دهند بس مهم است. در شرایط فعلی که کشور ما در معرض امواج مسموم کننده رسانه های غرض دارقرار دارد و آنان با سودجویی از نشرات شان از خود بیگانگی فرهنگی و در صدد انقطاع فرهنگ پربار ما در بین جوانان میباشد .

رسالت رادیو تلویزیون ملی بیشتر از بیش مهم شده تا در مقابل آنان ایستاده گی نموده، فرهنگ و ارزش های ملی و دینی ما را از سقوط به منجلاب، و جلوگیری از رشد فرهنگ بیگانه و مسموم کننده نجات بخشد. مردم از رادیو تلویزیون ملی انتظار دارند تا در شکوه معنوی جامعه، عظمت تاریخی، غنای فرهنگی، همبستگی و وحدت ملی، میهن دوستی و پاسداری از ارزش های شکوهمند ملی یاری رسانده پاسدار ارزشهای جامعه باشد در پرتو چنین برنامه ها رسالتمندانه است که خود آگاهی ملی رشد می یابد از بیگانگی فرهنگ کاسته می شود، احساس همبستگی، برادری، سازنده گی و عشق به میهن و ملت شگوفان می گردد.

بدون شک که هیئت رهبری و کارمندان رادیو تلویزیون ملی چنین می اندیشند و چنین عمل می کنند. که نجات میهن، بازسازی کشور، سعادت ملت و پرباری در آیین ما در آن نهفته است.

مدیر مسوول

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د راډیو، تلویزیون او سینـــما په برخه کې به اکادمی جوړه شی

د افغانستان ملی راډیو تلویزیون یو فرهنګي او ملی ارګان دی چې د دولت په چوکاټ کې فعالیت کوي، د افغانستان ملی راډیو تلویزیون لکه څنګه چې له نامه یې ښکاري یو ملی اداره او ترډېره هغه مسایلو ته پاملرنه کوی او د خپل خبري پوښښ لاندې یې راولي چې ملی ګټو، ملی ارزښتونو ملی وحدت او ملی هویت پورې اړوند وي، او کوښښ کوي چې په نړیوال ډګر کې د افغانستان فرهنګی،ارزښتونه وساتي او په ښه توګه یې خلکوته وروپېژني د افغانستان ملی راډیو تلویزیون دنده لري چې خپلو هیواد والو ته کره معلومات وړاندې کړي، د افغانانو د پوهې کچې د لوړولو په خاطر ښوونیز پروګرامونه جوړ او نشر کړي، ددې په څنګ کې چې تفریحي او ذوقي خپروني نشروي

درنو لوستونکو په همدی هکله مو د افغانستان دملی راډیو تلویزیون عمومی رئیس داکتر عبدالواحد نظری سره مرکه کړي چې ستاسو پام لوستولو ته یې را اړوم.

- داکتر صاحب نظری تاسي که مهربانی وکړی لومړی د خپلو فعالیتونو په اړه موچې دتلویزیون اوراډیو په برخه کې ترسره کړی یو څه رڼا واچوئ خوښ به شو؟

- : له کومې ورځې چې زه د ملي راډیو تلویزیون د رئیس په توګه د سرطان د میاشتي په شلمه وټاکل شوم له هماغي لومړی ورځې مو خپلی جدي هڅې د تلویزیون او راډیو د حالت او خپرونو د ښه والي په موخه پیل کړی.

د تلویزیون وضع، لکه څنګه چې ټولو ته معلومه وه او ده، په داسي حالت کې وه چې، هر څوک مختلفي غوښتني او سلیقي لرل، هره اداره غوښتل چې خبرونه پرته له سانسور، کمښت او زیاتوالي څخه نشر شوی وای، ټول نشرات په شپه او ورځ کې ۱٤ساعته وو، د نطاقانو مدیریت دا صلاحیت نه درلود چې حتي د اوو او اتو بجو خبري سرویس ته خپله یو ویاند وټاکي او دا هم له بهره تحمیلیده، د پروګرامونو محتوا ډېره ضعیفه وه، بګروندونو د خپرونو له محتوا سره مطابقت نه درلود، د راډیو تلویزیون ، د دندو د لایحو او وظایفو هیڅ درک نه وه معلوم، نشراتي پلان چې باید هره ورځ عمومي ریاست ته راشي، نه لیږدول کیده، د خبرونو ریندراون عمومي ریاست ته نه راتلو، سندرې پرته لدې چې د موسیقی د تطبیق د مدیریت لخوا وارزول شی وای او نشرشوی‌وای، خپریدې، د دواړو رسمي ژبو تعادل په نظر کې نه نیول کیده، ځیني اداري لکه (ایساف) چې د سپاټونو او اعلانونو د نشرولو په بدل کې مقررات او لایحې په نظر کې نیولای وای د ملي راډیو تلویزیو ن له لارې هسي خپریدل د دغو ټولو ستونزو لپاره مناسب تدابیر او اداري منظم چوکاټ جوړ شو.

زموږ خپروني چې ١٤ ساعته وی ۱۸:۳۰ ساعتونو ته لوړی شوې اوس له نیکمرغه 24 ساعته نشرات لرو. د راډیو تلویزیون د چارو د ښه والي په موخه د ځانګړو بنسټونو له استازو سره مو ځانګړې لیدني وکړې او ځینو یي ملی راډیو تلویزیون سره د لازمو مرستو ژمنه هم وکړه، چې له هغې ډلې څخه مو د چین له سفیر او په افغانستان کې له ځانګړې استازې سره مو غونډې وکړې، چې له یو لړ بحث او خبرو اترو څخه وروسته یې د امکان وړ مرستو ژمنه وکړه اوپه ترڅ کې له مو ب څخه وغوښتل چې د ملي راډیو تلویزیون یو تاکلی وخت د (سي سي تي وي) او د چین د نړیوالی راډیو لپاره په کرایه ورکړي. همداراز مو د (ای او ایم) له موسسې سره د بادغیس د محلي راډیو د جوړولو په موخه د یو ملیونو ډالرو په لګښت یو قرار داد لاسیک کړ همدارنګه مو د آلمان د سفیر سره ځانګړې ناسته درلوده چې هغوی هم دملی راډیو تلویزیون سره د هر راز مرستو ژمنه وکړه، په همدې شان مو د یونسکو له ځانګړې استازي سره وکتل، همداراز مو د (صداوسیما) ایران له راغلي استازي سره وکتل چې د یوشمیر ژورنالستیکو روزنیزو کورسونو د په لاره اچولو ژمنه یې وکړه. د ولسي جرګې د رئیس ښاغلي یونس قانوني سره مو یوناسته تر سره کړ، چې له نوموړي سره د ملي راډیو تلویزیون د شته ستونزو په اړه هر اړخیزه خبرې وکړې، د ملي راډیو تلویزیون له لارې د پارلماني فعالیتونو د انعکاس لپاره د یو نیم ساعته خپروني د جوړولو پرېکړه وشوه .

هره اداره مکلفه ده چې خپلی د ورځنی کارونو رپوټ هره ورځ عمومی ریاست ته ولیږي، همدارنګه د تلویزیون او راډیو د نشراتو ریاستونه خپل یو میاشتنی نشراتي پلان عمومي ریاست ته ولیږي، د اطلاعاتو مدیریت مخکې له دې چې خبرونه نشر شي د خبرونو ریندراون عمومي ریاست ته استوې او بیا وروسته له څارنې او ارزونې د خبرونو د نشرولو اجازه ورکول کیږي، هیڅ یوه سندره د موسیقی د مدیریت له لیدنې او ارزیابی پرته د خپرولو وړ نه ده.

- ستاسې راتلونکي پلانونه څه دي؟

۱- په پام کی لرو چه د تلویزیون لوګو تغیر کړو او د ملي کلمه په کې ور زیاته کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





جنورې له لومړۍ نيټې څخه په اروپا او امريکا کې هم د ملي تلويزيون خپروني نشريږي.

۳- د زړو خپرونو صيقلول او په نوي معيار سره جوړول.

۴- د راډيو، تلويزيون، هنر او ادبيات او اسلامي معارف په موافقه د تکره او مجربو کارکونکوڅخه يو نشراتي بورډ تشکيلول چې د مضامينو د تصحيح او ايډيټ وړتيا ولري- لومړي تلويزيوني سريال چې هر برخه يې د ۴۵ دقيقو لوري وي.

۵- د کال دغوره سندر غاړي د ټاکلو په موخه د افغاني سندرو د يو فيستيوال په لاره اچول کيږي.

۶- د استعدادونو د ودې او پرمختګ لپاره د رقابت فضا رامينځ ته کول.

۷- د تلويزيوني فلمونو د ژباړې اونريشن لپاره د ژباړونکو يوه کاري ډله جوړول.

۸- د مستندو فلمونو پيرودل.

۹- د راډيو او تلويزيـــون د ارشيـــــف ديجيټلايز کول چې په دې برخه کې د فرانسوي موسسی (INA) مرسته کړې او د ارشيـــف د ديجيټلايز کار له زاړه سيستم څخه نوي سيستم ته پيل شوی او تقريباً ۱۷۰۰ ساعته له زاړه سيستم څخه نوي سيستم ته او ښتي او همدارنګه ۴۵۰۰۰ ساعته راډيـــويي ثبت شويو خپرونو په اړه چې بـــايد ديجيټلايز شي په ۲۰۰۶ کـــال کـــې د (INA) فـــرانـــسوي موسســـې سره تـــړون لاسليک شوی دی.

۱۰- د هيواد د مهموخبرونو د تايـــتل ثبت په انګليسي ژبه او دهغي نشرول.

۱۱- د صداي هموطـــــن د خپرونو نشرول د نورو خپرونو په ترڅ کې..

۱۲- د ولاياتو د راډيو تلويزيون رياست د ولايتونو آمريتونـــو ته دنده سپارلي ترڅو د هر ولايت د فرهنګ کـــلتور اودودونو سره سم په اونی کې يوه خپرونه د ديرشو څخه تر شپيتو دقيقو پوري چې د ذوقي، هنري ورزشي معلوماتو او محلي سندرو لړونکي وي جوړ او د نشر لپاره مرکز ته راواستوي.

۱۳- د ملی ګټي دسپاتونونشرول .

۱۴- د ګردي ميزونو خپرول د هيواد په سياسي، اقتصادي او ټولنيزو موضوعاتو په هکله په پام کې لرو چې په بهرنيو هيوادونو کې د هغه هيواد څخه د مستقيمو خبرونو د ليږدولو لپاره يو خبريال وليږدوو. او روخيني هيوادو کی خپله نماينده کی پرانيزو.

- په تخنيکي برخه کې څه اصلاحات او پروګرامونه په نظرکي لرئ؟

۱- خپرونو د ګرافيک او زيګنال جوړولو لپاره د تکره ګرافيک کارانو ګمارل او دوی لپاره د امتياز په پام کې نيول.

۲- د تخنيکي وسايلو څخه د استفادې لپاره د با تجربه انجينرانو ګمارل، او د موجود انجينرانو او تخنيکرانو لپاره د کورسونو جوړول.

په اداري برخه کې د پرسونل د تشويق لپاره امتياز او مکا فاتو ورکول.

۱- د ژورناليستي کورسونو دايرول.

۲- د ملي راډيوتلويزيون د توليد شويو موادو څخه د استفادې لپاره د لايحې او اصولو طرحه.

۳- د اعلانونو د جذبولو لپاره د بازار موندني د يوې واحدې اداري جوړول. چې له دې لارې کوم عايد چې لاسته راځي د تلويزيون او راډيو د بهبود لپاره مصرف شي.

۴- د تحصيلي سويې تجربې او کاري درجې له پلوه د ټولو رياستونو د کار کوونکو ويشل.

۵- د نوي کال لپاره په نوې تشکيل کار کول.

- ښاغلی نظري صاحب که دا راته ووايأست چې دغه بدلونونه چې تاسو ياد کړل دا يواځې د تلويزيون په برخه کې و، د راډيو په برخه کې څه پروګرامونه او اصلاحات په نظرکې لرئ؟

- بلې زموږ پروګرامونه او اصلاحات يواځې تلويزيون پوري محدود ندي موږ د راډيو په برخه کې هم پروګرامونه په پام کې لرو.

۱- د ولاياتو لپاره انکشافي پلان جوړول.

۲- په هغه ولاياتوکې چې د راډيو ستيشنونه نشته د راډيو د جوړولو لپاره د خينو موسسو سره د قراردادونو لاسيک کول.

۳- د زړو قراردادونو په هکله څېړنه اوله سره غور.

همدا رنګه موږ په پام کې لرو چې په ملی راډيو تلويزيون کې د راډيو تلويزيون او سينما يوه اکاډمي جوړه کړو، چې په دې هکله مو د جرمني هيواد او اسيا پاسفيک هيوادونو له استازو سره چې مرکز يې په ماليزيا کې دی خبرې کړې او يوې موافقې ته هم رسيدلي يو.

ښاغلی ډاکټر صاحب واحد نظري ستاسو سره له خبرو اترو مننه کوو.

- له تاسوڅخه هم مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library







# رویدادهای فرهنگی

## دملی تلویزیون نړیوالي خپروني .

د اطلاعاتو او فرهنگ د وزیر له خوا پرانیستل شو.
د اطلاعاتو او فرهنگ وزیر عبدالکریم خرم د ملی تلویزیون نړیوالي خپروني پرانستلی او په هغي غونده کي چي له همدی امله د ملی رادیو تلویزیون په تالارکي جوړه شوي وه په دی اړوند وویل: نن د هغی غوندی بلی بریا او بریالیتوب چي د ملی تلویزیون د نشراتو د نړیوال کیدو پیل دی جشن نیسو.
ده زیاته کړه چي له دی ورسته زموږ هیوادوال د نړی په بیلابیلو هیوادونو کي کولای شي د ملی تلویزیون خپروني وگوری.
د اطلاعاتو او فرهنگ وزیر څرگنده کړه چي د ملی تلویزیون په نړیوال کیدو باندی کار د روان کال له پیل څخه شروع او د هیواد د جمهور رئیس د پاملرني او د همکارانو د ډیرو هلوځلو له امله خپل هدف ته ورسیدو.
ده زیاته کړه چي ملی تلویزیون د خصوصی تلویزیون لپاره یوسیال تلویزیون نه دی، ملی تلویزیون خپل مقام او خپل رسالت لری. ملی تلویزیون دنده لری چي د افغانستان بریا وی هیوادوالو او نړیوالو ته ورسوی.
د اطلاعات او فرهنگ وزیر وویل: د راډیو په اړوند وویل چي هڅه کوو د رادیو خپروني هم نړیوالی شی او د موقع په ترلاسه کولو سره دغه کار هم تر سره کیږی.
ښاغلي خرم د تلویزیون له کارکوونکو څخه وغوښتل چي پروگرامونه داسی برابر او نشر کړی چي د خلکو غوښتنه ده او هڅه وکړی چي پروگرامونه له پخوا زیات افغانی شی او تولیدات زیات او ښه شی.
وروسته ملی رادیوتلویزیون رئیس عبدالواحد نظری خبری وکړی وویل: اوس د ملی تلویزیون خپروني د نړی په پنځو براعظمونو کي لیدل کیږی او دا د کلونو هیله وه چي له نیکه مرغه په برخه موشوه، ښاغلي نظری زیاته کړه چي اوس په هیواد کي د ننه د هیوادوالو په گډون په بهر کي له میشتو او مهاجرو افغانانو څخه هیله لرو چي خپلی نظریي او پیشنهادونه راولیږی.
ښاغلي نظری د ملی تلویزیون د آرکستر د بیرته جوړولو یادونه وکړه. او په خپروني کي د دغه ارکستر لخوا د ترانی، او وروسته د هیواد مشهور هنرمند رحیم غفاری قوالی کنسرت اجرا کړ. په دی غونډه کي د کابینی ځینو غړو، د دوستو هیوادنو سفیرانو، د دولتی ادارو ځینو مسوولینو او د ملی رادیو تلویزیون منسوبینو گډون درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فستیوال آهنگ های محلی تحت نام د شملی گل







فستیوال اهنگ های محلی تحت نام د شملی گل از طرف انجمن هنرمندان موسیقی افغانستان طبق هدایت آقای عبدالکریم خرم وزیر اطلاعات و فرهنگ دایر گردید.فستیوال متذکره در تالار بزرگ رادیو تلویزیون ملی با بیانیه رئیس انجمن هنرمندان حیات اله گردیزی آغاز و بعدا آقای غلام نبی فراهی معین اداری و آقای دین محمد مبارز راشدی معین نشراتی وزارت اطلاعات و فرهنگ در مورد نگهداری اصالت آهنگهای محلی و رشد موسیقی اصیل کشور سخنرانی کردند. به تعقیب آن نغمه پیام صلح به کوشش استاد محمد حنیف نبی زاده ترتیب گردیده بود، توسط ارکستر موسیقی محلی نواخته شد. بعدا اهنگ مخصوص د شملی گل که توسط فضل الرحمن وحدت کمپوز شده بود اجراگردید. متعاقبا آهنگ های اصیل محلی توسط هنرمندان سابقه دار عرصه موسیقی محلی چون: استاد بیلتون، سلام لوگری، عالم شوقی... خوانده شد. در این فستیوال برعلاوه آواز خوانان سابقه دار کشور هنرمندان جوان نیز اشتراک ورزیده بودند.دراین فستیوال مجموعا چهل و یک (۴۱) پارچه آهنگ محلی توسط هنرمندان ولایات مختلف اجرا شد. استاد هماهنگ، استاد گلزمان، استاد محمد آصف، صفدر توکلی، محمد رسول زمری، محمد رفیق خشنود و حیات اله گردیزی به عنوان هیات بررسی وارزیابی نتایج این فستیوال را چنین اعلام کردند.

۱- آهنگ محلی منگل شوقی مقام اول برنده جایزه نقدی و دیپلوم درجه اول
۲- آهنگ محلی هزاره گی عظیم رضایی مقام دوم و برنده جایزه نقدی و دیپلوم درجه دوم
۳- اهنگ محلی خانم فرشته مقام سوم و برنده جایزه نقدی و دیپلوم درجه سوم
۴- آهنگ محلی سید آغا توخی مقام چهارم و برنده دیپلوم درجه چهارم

در اخیر فستیوال به تعدادی از هنرمندان با تجربه و سابقه دار عرصه موسیقی تقدیرنامه های انجمن موسیقی افغانستان توزیع گردید. قابل یادهانی است که فستیوال متذکره به کمک و همکاری همه جانبه ریاست عمومی رادیو تلویزیون ملی بخصوص مدیریت عمومی استدیو های ریاست تخنیکی به دایرکتری محترم (میرحیدر زاووش) مدیر عمومی مدیریت موسیقی ریاست هنر و ادبیات ثبت و از طریق تلویزیون ملی به نشر سپرده شد. انجمن موسیقی افغانستان در نظر دارد که در آینده نزدیک فستیوال رقص ها و اتن ملی را نیز به راه اندازد.

(میرحیدر زاووش)

## نشست روسای رادیو تلویزیون ولایات

اخیرا نشست به اشتراک روسای رادیو تلویزیون ولایات افغانستان و عبدالواحد نظری رئیس عمومی رادیو تلویزیون ملی و روسای بخش های مختلف تلویزیون ملی در تالار سینمایی تلویزیون ملی دایر گردید.

این نشست به منظور بهبود نشرات تلویزیون ولایات دایر گردیده بود که منبعد نشرات تلویزیون ملی در ساعات تعیین شده به مراکز ولایات فرستاده و بعدا به نشر سپرده شود به آمرین رادیو تلویزیون های ولایات هدایت داده شده که برنامه های با کیفیت را در رابطه به مسایل فرهنگی، محلی، سیاسی، تاریخی، گزارشات از بازسازی شهری ولایات متذکره به شیوه عالی به منظور نشر به مرکز رادیو تلویزیون ملی فرستاده تا در یک وقت معین نشر گردد.

برای رقابت سالم برنامه ها در ولایات و تشویق آنها در نظر گرفته شد تا فستیوال برنامه های تلویزیونی ولایات به راه انداخته شود و توسط یک هیأت با صلاحیت برنامه ها برای برنامه های که در جه اول، دوم و سوم قرار گیرد جوایز و تقدیر نامه ها داده شود. بعدا آمرین رادیو تلویزیون های ولایات مشکلات شانرا در مورد کمبود کارمندان مسلکی، کمبود وسایل تخنیکی، مصارف روغنیات جنراتور ها، عدم انرژی برق را مطرح نمودند. که در مورد به ریاست رادیو تلویزیون ولایات وظیفه سپرده شد تا فهرست وسایل مورد نیاز آمریت های رادیو تلویزیون ها درجه بندی نموده و به ریاست ولایات سپرده شود.

حاجی عنایت الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محافظت از منار جام و مصلای هرات

وزارت اطلاعات و فرهنگ اخیراً هیات را برای بررسی از وضعیت ساختمان منارجام در ولایت غور و مصلای هرات اعزام کرده بود که بعد از بررسی و دیدن اشخاص مسلکی از ساختمان ها بدین نتیجه رسیدند که برای استخدام و ترمیم هرچه بیشتر از منارجام به دوصدهزار دالر بودجه نیاز است. شورای وزیران، وزارت مالیه را موظف کرد که مبلغ مورد نیاز را برای بازسازی منارجام و مصلای هرات در اختیار وزارت اطلاعات و فرهنگ قرار دهند.

منارجام که از آن به عنوان کهن سال ترین بنای خشت و گل جهان نام برده می شود. در قرن دوازدهم میلادی ساخته شده و در سال ۲۰۰۲ مرکز حفظ میراث جهانی یونسکو خواستار ثبت آن در فهرست میراث فرهنگی جهان شد. مسوولین یونسکو در مورد این اثر تاریخی که در خطر و فرو ریختن آن موجود است که این منار احتمالاً یکی از منارهای خارق العاده کهن ترین برج آجری (خشتی) است که تا حال در جهان باقیمانده است.

نماینده یونسکو میگوید: به دلیل جریان آب در رود خانهء که در نزدیکی منارجام قرار دارد. و همچنان خیابان که از کنار مصلای هرات میگذرد خطر ویران گردیدن آن زیاد بوده است. امید برآن است که این آثار تاریخی جهان از خطر ویران شدن حفظ و مجدد باز سازی گردد.

## هیولای سرخ

ششم جدی ۱۳۵۸ روز سیاه تاریخ کشور (اشغال کشور توسط قشون سرخ و اعمال دست نشانده آن) و سر آغاز بدبختیها، سیه روزی ها، مهاجرت های طولانی، دربدری ها و مبارزات خونین این ملت مظلوم ولی مسلمان، قهرمان و مجاهد بشمار میرود. اداره نمایش نامه های ریاست هنر و ادبیات رادیو تلویزیون ملی افغانستان تیاتر تلویزیونی را تحت نام (هیولای سرخ) تهیه، ثبت و به نشر سپردند که نمایانگر وحدت ملی اقوام، اقشار و ملیت های مختلف کشور در مقابل تجاوز اجانب و بیانگر رشادت دلیرمردان وطن پرست، مجاهدت مجاهدین سر به کف و راستین کشور که با ریختاندن خونهای شان کشور را از چنگال اجانب و متجاوزین آزاد نموده اند، میباشد.

به قول شاعر:

ما جان به فنا دادیم تا زنده شما باشید
بر خاک مزار ما دست به دعا باشید

تیاتر هیولای سرخ که برمبنای نوشته و کارگردانی محترم محمد عظیم (رباطی) به نمایش در آمد کارگردان خواسته تا ندای مادر وطن را در نقش {بی بی جان(ستوری منگل)} که خود یک مادر معیوب، درد دیده و ستم کشیده روزگار است که با لباس ملی به رنگهای سیاه، سرخ و سبز آراسته شده و در عین حال سوار بر ( چوکی تایردار) که خود نمایانگر حالت و اوضاع نا اهنجار کشور از ابعاد مختلف و نشان بیرق ملی افغانستان میباشد، به تصویر گرفته که اولاد وطن را برای دفاع از نوامیس ملی، حراست از تمامیت ارضی و جهاد علیه کفار و متجاوزین وامیدارد که اولاد صالح وطن اعم از مرد، زن، پیر و جوان باریختاندن خون و دادن جان های شیرین شان به ندای مادر وطن لبیک گفته و کشور عزیز شانرا از یوغ اسارت و برده گی آزاد مینمایند.

اداره مجله آواز تهیه و نشر چنین نمایشات آموزشی و تیاترهای تلویزیونی را یک گام بزرگ در راه پرورش روحیهء حس وطن دوستی و وطن پرستی در افراد جامعه خوانده و بخصوص یک رقیب خوبی در مقابل نمایشات و سریال های مبتذل تلویزیون های خصوصی که جز ترویج آئین هندونیزم و گمراه نمودن جوانان چیزی دیگری در قبال ندارد، دانسته موفقیت های بیش از حد را در این راستا برای نویسنده، کارگردان، و ممثلین این اداره خواهانست.

## د عکاسي نندارتون

د تول بنار تر نامه لاندي د عکاسي نندراتون د گویته انستیتوت او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



آلمان د نړیوالو اړیکو د ټولنې لخوا د کابل په ملي موزیم کې پرانستل شو. په ننداراتون کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت فرهنګي مرستیال عمر سلطان ددغه نندارتون د پرانیستلو پر مهال وویل: دغه ننداراتون د دواړو هیوادونو تر منځ د فرهنګي اړیکو پراختیا لپاره مهم او ارزښتناک دي نوموړی له ټولو هیوادونو څخه د فرهنګي پراختیا غوښتنه وکړه دغه راز په کابل کې د آلمان کلتوري اتشې د فرهنګي پروژو په پیلولو کې ددغه هیواد د مرستې د ژمنې په ترڅ کې وویل: ددغه ننداراتون عکسونه چې د آلمان د یو پیاوړي عکاس د دوستی د اړیکو څرګندوي دي.

## شاعر فرهیخته کشور

از طرف وزارت اطلاعات و فرهنگ جمهوری اسلامی افغانستان از صدمین سالروز تولد شاعر گرانمایه و نامدار کشور استاد خلیل اله خلیلی در کابل تجلیل به عمل آمد.

استاد خلیل اله خلیلی عمر پر بار یش را در راه خدمت به وطن هموطنانش صرف نمود. وی شاعر شناخته شده بود که آثارش علاوه بر افغانستان در کشور های آسیای میانه، ایران، هندی و پاکستان از محبوبیت فراوانی برخوردار بوده و است.

از استاد خلیلی ۱۶۲ اثر منظوم چون کلیات اشعار، از بلخ تا قونیه، نی نامه، تاریخ غزنویان، فیض قدس، آرامگاه بابر،عقاب و چند ین اثر دیگر مشهور به جا مانده است.

موصوف با همه زندگی پربهایش با همه عشق و علاقهء که به کشورش داشت در سال ۱۳۶۶ به عمر ۸۲ سالگی در شهر پشاور پاکستان در دیار غربت وفات نمود و در همان جا در نزدیکی مقبره رحمن بابا به خاک سپرده شد.

## د فراه، زابل، بامیان اوغور راډیو تلویزیون....

د فراه ولایت د ملي تلویزیون د خپرونو ترڅنګ د (اف ام) راډیویي خپروني پیل شوې.

د فراه والي مولوي محي الدین بلوڅ ددغې راډیو د پرانستلو په غونډه کې وویل دغه راډیو په ورځ کې د سهار او مازیګر لخوا نشرات لري او څلویښت کیلومتره ساحه یې تر نشراتي پوښښ لاندې راوستې ده.

ده ددې راډیو پرانستل د فراه ولایت د خلکو فرهنګي ودې او زیات پوهاوي په لاره کې یو مثبت ګام وباله. او د زابل ولایت سیمه ییزې راډیو بیا خپلې خپروني پیل کړې د زابل ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس وویل دغه راډیو د (اف ام) په څپوکې د دیرشو کیلومترو په واټن ساحه تر اغیزې لاندې نیسي او د ورځې اته ساعته خپروني لري.

ده وویل د زابل ولایت سیمه ییزه راډیو پخوا د دولت د مخالفینو لخوا له منځه وړل شوې وه.

په همدی توګه د بامیان په ولایت کې د راډیو او تلویزیون دستګاه فعاله شوه د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر ښاغلی عبدالکریم خرم د بامیان ولایت لرغونی ساحې وکتلی همدغه راز دګرخندوی دودی په اړوند خبری اترې وکړی. د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر په داسی حال کې چې د دغه وزارت د خوانانو د چارو معین، د بامیان والی داکتري حبیبی سرابی او ددغه ولایت د ځینو دولتی ادارو رئیسان ورسره و د بامیانو راډیو تلویزیون پرانست. ویل کیږی د بامیان ولایت ملی راډیوتلویزیون د شپی له مخی څلور ساعته خپروني لری او پنځلس کیومتره تر پوښښ لاندی راولي، ددغه تلویزیون په خپرونوکې، تفریحی، ادبی، هنری او معلوماتي پروګرامونه شامل دي.

د غور ولایت راډیو تلویزیون په خپرونو پیل وکړ. د غور ولایت راډیو تلویزیون په ورځ کې درې ساعته خپرونې لري او تر دیرشو کیلومترو ساحه پوښیوي په هغې غونډه کې چې له همدې امله جوړه شوي وه د غور والي بازمحمد احمدی خبري وکړې او د تلویزیون د خپرونو پرانستل د خلکو د ذهنونو په روښانه کولو کې یو ارزښتناک ګام وباله

## تجلیل از سالروز وفات رحمان بابا

اخیراً کنفرانس تحقیقی دو روزه از صدومین سالروز وفات شاعر عبدالرحمن مهمند مشهور به «رحمان بابا» از طرف اکادمی علوم افغانستان در تالار لیسه استقلال راه اندازی گردیده بود.

در این کنفرانس تحقیقی پیام محترم حامد کرزی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان توسط محمد صدیق پتمن معین وزارت معارف قرائت گردید که در بخش از پیام آمده است:«رحمان بابا شاعر بود که در قلب مردمان هر قشر جامعه راه داشت طی دو قرن گذشته محققان شرقی و غربی در باره رحمان بابا پژوهیش های زیادی نموده اند. به اندیشه من منظور دریافت جوهر اصلی شعرهای رحمان بابا به تلاش و تحقیق بیشتر نیاز دارد».

بعداً پیام عبدالکریم خرم وزیر اطلاعات فرهنگ توسط دکتور عبدالواحد نظری رئیس عمومی رادیو تلویزیون ملی افغانستان خوانده شد که در قسمت از پیام وعده داده شد که دیوان شعری رحمان بابا را چاپ و مقبره موصوف را در شهر پشاور با لوحه سنگ مرمرین مزیین سازند.

رحمان بابا در قریه بهادر پشاور متولد گردیده و در سال ۱۱۲۸هجری وفات نموده است. وی نه تنها گوینده و شاعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبان پشتو بود بلکه با سایر زبان ها نیز آشنایی داشت.

## د ملي آرشیف بیا رغاونه

د ملي آرشیف د پخوانی ودانی د بیا رغاونی کار به په نږدي راتلونکی کي پیل شی دغه خبر د اطلاعاتو او فرهنگ وزیر عبدالکریم خرم د ملی ارشیف الحاقیه ودانی د بنست ډبري د کینودلو پرمهال وکړه. ښاغلی عبدالکریم خرم وویل د ملي آرشیف د ودانی ترڅنګ الحاقیه ودانی جوړول یو، مهمه اړتیا ده ددي ودانی په جوړولو سره به چي په دریو پوړونوکی جوړه شي د ملي آرشیف اداري، تخنیکي او انجنیري څانګي دغه ودانی ته ولیږدول شي او خطي نسخو د ترمیمولو لپاره مناسب ځاي په پام کي نیول شوي دي.

ښاغلي خرم ملي آرشیف د افغانستان د تاریخي خزاني په توګه و باله او زیاته یي کړه چي د حضرت عثمان غني (رض) د خلافت له دوري څخه تر نن ورځي پوري خطي او ارزښتناک فرهنګي آثار په کي شته.

## کارمندشایسته رادیو تلویزیون ملی



مرحوم عبدالمحمد غیاثی فرزند عبدالغیاث کابلی الاصل مسکونه گذر خوابگاه کابل یکی از ورزیده ترین قلم به دستان رادیو تلویزیون بود که بیشتر از چهل سال عمر شانرا وقف عرصه فرهنگ نمود. وی شخص مهربان، کاردان، بادرایت ،با کفایت و باهمکاران صمیمی و مهربان بود.

مرحوم غیاثی در رشته ادبیات و ژورنالیزم تحصیلات عالی داشت و در رادیو (B.B.C) لندن در رشته تهیه و برنامه سازی تحصیل نموده بود.

وی مبتکر اکثر برنامه های تربیتی، تعلیمی، آموزشی و فرهنگی در رادیو بود برنامه های مسابقه ذهنی، صفحهء از تاریخ، کورنی ژوند، ارمغان سحر، ما شنوندگان و برنامه دهقان از کارکرد های دوران مسوولیت شان در مدیریت عمومی روزنه رادیو بوده و جایزه جاپان پرایز برنامه دهقان یکی از دست آوردهای فرامرزی آن مرحومی بود.

مرحوم غیاثی در پست های مدیریت عمومی نشرات خارجی، رئیس افغان اعلانات، رئیس افغانفلم، رئیس ارتباط خارجه (R.T.A) مصدر خدمات شایستهء گردیدند. در سال (۱۳۷۰) نظر به زحمات و خدمات شایسته موصوف بنا به پیشنهاد ریاست عمومی رادیو تلویزیون و منظوری مقام ریاست دولت حائز لقب کارمند شایسته فرهنگ گردید. اما با افسوس و دریغ که اثر مریضی ایکه عاید حال شان گردید به جاویدانگان پیوسته یاد و خاطرات آن با ما و همکاران رادیو تلویزیون ملی جاویدانه است.

انالله و انا الیه راجعون

## غزنی ولایت د آسیایي هیوادونو د اسلامی فرهنگ د پایتخت په توگه وپیژندل شو.

په لیبیا کي د اسلامی هیوادونو د تعلیمی، علمی او فرهنگی همکاریو سازمان پریکړه وکړه چي د غزنی ښار په ۲۰۱۳ میلادی کال کي د آسیایي هیوادونو د اسلامی فرهنگ د پایتخت په توګه وپیژندل شی. د اطلاعاتو او فرهنگ وزیر ښاغلی عبدالکریم خرم د اسیسکو سازمان په غونده کي ګدون کړي و. څرګنده یي کړه چي د آسیایي ښارونو د اسلامی فرهنگ د پایتخت په توګه د غزنی د تاریخی ښارټښیتول د افغانستان د ملت یو ستر ارزښت او بریالیتوب وباله. او زیاته یي کړه چي د افغان ملت لپاره یوه ستره آزموینه ده چي څه ډول دغه ارزښتونه وساتل شی همدا راز، امنیت او سوله یوه مهمه او اساسي مساله ده چي باید ډیره ورته پاملرنه وشی. د غزنی خلک او اوسیدونکي باید په دغه برخه کي دولت سره همکاری وکړی. د اسلامی هیوادونو او فرهنگی لرغونتیاله پام کی نیولو سره. تاکل شوی ده چي په دی کال کی له ټولی نړی څخه یو زیات شمیر ګرځندویان څیړونکي او فرهنگ دوستان غزنی ولایت ته سفر وکړي او بیلابیل سمی یي وګوری، د غزنی ولایت د اسلامی فرهنگ ثقافت او دعلم مرکز او زانګو بلل کیږی. له دغه ولایت څخه په تیره بیا په اسلامی دوره کي نومیالی فاتحان، شاعران او ادیبان روزل شوی دی.

بقیه ص (۴۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې برخه :



# مولوی

## د روح د سفیر په توګه

لمر

(رومي خان هغه (نی) یا شپیلی لیده چې د خدای پر شونډو ناست دی او خدای هر رنګه چې غواړي غږوي یې!۱۲).

(بشنو از نی چون حکایت میکند
از جدایها شکایت میکند
کز نیستان تا مرا ببریده اند
در نفیرم مرد و زن نالیده اند
سینه خواهم شرحه شرحه از فراق
تا بگویم شرح درد اشتیاق
**هر کسي کاو دور ماند از اصل خویش**
باز جوید روزگار وصل خویش
من به هر جمعیتی نالان شدم
جفت بد حالان و خوش حالان شدم
هر کس از ظن خود شد یار من
از درون من نجست اسرار من...
ترپایه ۱۳)

مولانا باید په خپله د هغه له خولې واورېدل شي. زموږ ځېرنه، تشریح، حاشیه لیکنه ډېر خله له ذهن څخه را ولاړیږي، مولانا چې کوم نی، سیند، بحر، افتاب... یادوي هغه یې لیدلي او تجربه کړي، هغه د عشق د مرغلرو په موندلو سره د تولي هستي او نیستي تجربې ته مخه وکړه، کومې کلمې چې مولانا د شعر په کالبد کې موږ ته پرابیني هغه یې د لطیفو حواسو له لارې لیدنه کړې او په خپله یې د صوت د ستر اقیانوس له عاشق څخه تر لاسه کړې، هغه په دغه عشق کې سوځي، لولپه کیږي او بیزته د نور او صوت له اقیانوس څخه راستنیږي او د شعر په لمن کې د خدای نندارې ړدي او دومره رنګین باران پر ستړي او ستومانه بشریت اوروي، مولانا د شمس له تجربې سره ولوتل شو، هغه ټول مفاخر او منصبونه بایلول او دا شیبه یوازې اقیانوس وه چې د هغه له دریځې را بهیده، هغه لومړنی سپین خالص کلمات راوړي، هغه له سره جهان، هستي، لمر، سمندر نوموي، او له دې کار سره مانا او د کلمو هندسي کالبوت یو ځای حرکت کوي. زموږ هلې ځلې دادي چې مولانا ترجمه کړو، موږ هغه ژوندی تجربه چې له بې مادي قلمرو څخه راغلي، د ذهن ماشین ته وراچوو او آسماني جنس په ځمکنیو خاورینو پنډو ځېزونو مانا کوو. زموږ پېژندنه او مسلکي پلټنه یو بل مولانا، یو ذهني مخلوق راوباسي او د فال نیولو دیوانونه پرې ډکوي.

هر کس از ظن خود شد یار من
از درون من نجست اسرار من

یا دا چې:

دل من هر دو جهان گشت و نیابید مثالش
به که ماند، به که ماند، به که ماند،
به که ماند
مولوي

مولانا د عشق په تجربه کې خپل نوم، علمي او ادبي دبدبه د شاګردانو او ستاینوکو پنډه ذخیره، لوی شهرت او عزت او هر څه پرېښول او د اګاهۍ له ابدي جریان سره وصل شو. هغه د روح سفیر شو، او له لیدلو څخه نالیدلو ته ورسید. او د شعر په کاروان کې ځمکې ته راغی.

(بشنو از نی چون حکایت میکند
ازجدایها شکایت میکند...)

د روح سفر لرغوني پوهه (اکنکار) رومي یو له استاتیدو څخه ګڼي. فیل موري کله چې د ترافیکي واټ له سخت ګواښن څخه روغ رمټ راوځي، استاذ یې (واه زي) ورته وایي (رومي پخپل وخت کې د مستقیم انعکاس په کار کې پوره بر لاسی وه، تا نن دندی ته د تللو په لاره کې د مستقیم انعکاس خوند ولیده۱۴).

ور پسې کله چې مولانا د یوې بلې مکاشفې په ترڅ کې د فیل موري د اګاهۍ په وړاندي را څرګندیږي وایي:

(د روح سفر هدف ساده دی، هغه دا چې په همدې ژوندانه کې د معنوي آزادۍ د تجربې کولو لپاره د فرصت را مینځته کول...۱۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولانا د هغو وګړو تجربو ته اشاره کوي چې د دښمنانو په کلابندۍ کې ناڅاپه تري تم شوي او په ښه ډېر ليري واټن کې ليدل شوي، يا د شمس په څير دتل لپاره محو شوي...
واه زي فيل موري ته وايي چې هغه د تکر په وخت کې د مولانا لخوا د مستقيم انعکاس له لارې ژغورل شوی. او رومي ورته رښا اچوي چې (مستقيم انعکاس فردي مهارت دی، دا د روح سفر يوه بيلګه ده چې د جسم او معنوي کالبوت د جلاکيدلو سبب ګرځي.۱۶).
د اکنکار په مکتب کې د روح سفر د فردي روح د ژغورني او خدايي هيواد ته د هغه بيرته ستنيدلو اساسي چاره بلل کيږي. د روح سفر او مستقيم انعکاس تفاوت په دې کې دی چې (د روح په سفر کې ستا پاملرنه له مادي کالبوت څخه يوه بل دروني کالبوت ته ليږدول کيږي۱۷) خو په مستقيم انعکاس کې يوازې معنوی کالبوت له فزيکي کالبوت څخه جلاکيږي.
مولانا ټينګار کوي چې د روح سفر هدف يوازې او يوازې د معنوی ازادۍ د چارې آسانه کول دي، نه خودپرستي او د نفس راضي کول!
(دا يوازې روح دی چې په يوه وخت کې د هر څه په هکله کې مطلقه پوهه ترلاسه کوي...کله چې روح غواړي وپوهيږي يوازې خپله پاملرنه هغې خواته اړوي او بيا په آسانی سره پوهيږي...۱۸).
مولانا په پای کې د معنويت دغه شاګرد ته وايي (ما مثنوي خپلو معاصرينو ته ليکی و۱۹).
پايله:
اکنکار روح تر ټولو زوړعمری خالص فردي موجود ګڼي چې د څه باندې اته ميليونو فزيکي کلونو په ترڅ کې د زوکړې او مرګ له ستوني تيريږي او را تيريږي او د ځان پيژندني او خدای پيژندني له تجربو سره د خدای د همکار او خدمتکار په توګه خپل آسماني هيواد ته بيرته ستنيږي.

(از جمادی مردم و نــــامی شدم
و ز نما مردم به حـــيوان بر زدم
مـــردم از حـــيوانی و آدم شدم
پس چه ترسم کی ز مردن کم شوم
حمـــــــــله ديگر بميرم از بشر
تا بــــرآرم از ملائک پر و سر
بار ديگر از ملک قـــربان شوم
آنچه اندر وهم نايـــد آن شوم۲۰)

اکنکار فرد مسوول موجود ګڼي چې د عشق کولو له لارې يې د روح سپين ګربت راويښيږي او له مادي نړۍ خپل (نو) پرې کوي او د الهي نور او صوت ژوندی مظهر ګرځي.
او دغې پوړۍ ته هغه وخت فرد رسيږي چې د ابديت شپيلۍ شي.

(بشنو از نی چون حکايت ميکند
از جدايها شکايت ميکند
کز نيستان تا مرا ببريـده اند
در نفيرم مرد و زن ناليده اند

او: هر کسي کاو دور ماند از اصل خويش
باز جويد روزګار وصل خويـــــش
ترپايه ۲۱)

د روح سفر لرغوني پوهه خدای عاشق ګڼي، د عشق اقيانوس ته يوازې په عاشقانه اراده او تلوسه ور الوتلای شو، او سړی بايد په خپلو کړو وړو کې عاشق شي ترڅو عشق ووينې، عشق واوري، او عشق يې بستر شي.
د نيوزيلاند اوسيدونکي (وايول) د مکاشفې په ترڅ کې دغه کلمې په خپل زړه کې ويني:
(...عشق د هر څه کلي (کنجی) ده. موږ چې يو له بله سره مينه کوو نو دا مو د خدای لپاره ډالۍ ده. خبره پر موږ ده، موږ ټول سپيڅلي ياستو...۲۲)
او پای هم د شيخ سعدي پر دې بيت:

(آشنايان ره بدين معنی برند
در سرای خاص بار عام نيست۲۳)

پای

ماخذونه:


۱- فيل موري ميتسو «درپيشګاه استادان اك»
۲- هارولد کلمپ «کودك درسرزمين وحش»
۳- سري هارولد کلمپ «ازاستاد بپرسيد جلد۲» (۳۷۴)م مخ
۴- پال توئيچل «دندان ببر» (۱۷۶)م مخ
۵- سري هارولد کلمپ «شاهين ها بازميګردد»
۶- داکترکريم سروش «قمارعاشقانه»
۷- تادکرامر...« اکنکارحکمت باستاني برای عصرحاضر» ۹۴ او۸۹ مخونه
۸- ربازار تارز از استاد بپرسيد جلد۲
۹- شريعت- کي- سوګماد جلد۲
۱۰- مايك اوري «زبان سري روياهای بيداري»
۱۱- فيل موري ميتسو «درپيشګاه استادان اك»۲۸۹ م مخ
۱۲- داکتر کريم سروش «قمارعاشقانه» شپږم مخ
۱۳- مثنوي معنوي مولانا جلال الدين رومي دديوان پيل
۱۴- ۱۹ فيل موري ميتسو «درپيشګاه استادان اك» ۲۸۷ او ۲۸۸ مخونه
۲۰- مولوي «مثنوي معنوي» دفتر سوم
۲۱- مولانا جلال الدين رومي «مثنوي معنوي» لومړی مخ
۲۲_ استادان شګفت انګيز اك - واه زي ۱۲۶ مخ
۲۳ - ديوان سعدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# موسیقی هم حس می شود و هم درک





فرهاد

**گپ هایی از شهبانوی موسیقی کشور استاد مهوش:**

وقتی صدایش را می شنوی، احساس می کنی چیزی زیر پوستت می دود. چیزی دراندرونت به صدا در می آید، طنین این صدا را با خونت لمس نموده و در رگ هایت حسش می کنی. هنگامی که می خواند:

در آن نفس که بمیرم در آرزوی تو باشم
به آن امید دهم جان که خاک کوی تو باشم

عطر صدایش روی گلدان احساست می شگفد، آن گاه به این دریافت ژرف می رسی که صدای ناب و آواز خوش، عطیه ایست از جنس موهبت الهی که به هر کس و هر آدمی داده نمی شود...

بی تردید این صدا، صدای (شهبانوی موسیقی) کشور، استاد فریده مهوش است. هرگاه که استاد گلو صاف می کند و از آبشار شفاف صدایش، ترانه و ترنم فرو می ریزد، بزرگیش را می فهمی و از ته دل به وی آفرین می گویی. با توجه بر همین پنداشت و (برای فهم بیشتر دید گاه های استاد در بارهء هنر موسیقی) گپ و گفتی را با وی انجام داده ایم که پیشکش می گردد:

استاد سلام ؟

استاد مهوش: شما سلامت باشید. روزهای تان آبی آبی و لحظه های تان آفتابی باشد.

آیا از سفر تان به افغانستان راضی هستید؟

استاد مهوش: بلی و بسیار روزهای خوش و خاطرات فراموش ناشدنی از مردم عزیز و سرزمین سترگم داشتم و دارم.

استاد گرامی، اگر اجازه بدهید، می خواهم از پراگنده گی در پرسش ها جلو گیری شود و گفت و شنود ما صرف در حوزهء هنر موسیقی و دید گاه های شما در این زمینه اختصاص بیابد؟

استاد مهوش: بسیار خوب من در خدمتم.

با سپاس می خواهم در وهلهء نخست بپرسم که تعریف شما از موسیقی چیست و با چه دید مفهومی به این مقوله می نگرید؟

استادمهوش: به نظر من هنر به صورت مجموعی تعریف ناپذیر است؛ زیرا تعریف محدوده ای است که هنر را (تحریف) می کند، و اتکأ بر مقولهء تعریف، نوعی محدوده آفرینی در برابر هنر است. وقتی که برای نخستین بار با همچو سوالی رو به رو شدم، همان بیت معروف خداوند گار بلخ، جلال الدین محمد، به یاد م آمد که گفته است:

**"گر بریزی بحر را در کوزه یی**
**چند گنجد قسمت یک روزه یی"**

و به استناد از قول معروف، هنر بحری است که در کوزهء تعریف و تعابیر نمی گنجد؛ مثل آسمان بی پهناست و هر کجا بروی بر فراز سر ماست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جناب استاد می خواهم با این دید گاه مثالی را در عرصهء موسیقی بیاورید و....

استاد مهوش: (پوزش می خواهم که حرف تان قطع شد) ببینید، موسیقی به یک تعبیر، مجموعه یی از «سُر، لی و تال» است و این سه عنصر ساختاری، شکل دهندهء راگ ها و راگنی های برگرفته از متن راگ های مختلف است. اگر موسیقی را به طور یکسویه تنها مجموعه یی از سُر تعریف کنید، لی از تعریف باز می ماند و اگر تنها آن را هنر «سُر و لی» تعریف نمایید، «تال» که بخش مهم و سازندهء موسیقی است از تعریف بیرون می ماند. بنابرین موسیقی به هیچ وجه محدودهء تعریف را نمی پذیرد و مانند اسمان خداوند(ج) بی انتهاست.... در هر جا بر وی هست و در هر احساسی، ذوقی برای شنیدن آن موجود است.

از دید شما آیا موسیقی از جنس مقوله های حسی است یا درکی، به زبان ساده تر، آیا موسیقی بیشتر درک می شود و یا حس؟

استاد مهوش: به نظر من موسیقی دو مرحله دارد: یکی درکی و دیگری هم حسی. در یک مرحله می تواند قابل درک و فهم باشد و در مرحلهء دیگر می تواند قابل حس شود؛ اما با این تأکید که چون موسیقی علاوه بر جنبهء علمی بودنش، بیشتر با سلیقه و ذوق آدمی سروکار دارد، قدرت حسی ان، برتر از مرحلهء درکی و فهمایی ان است.

می خواهم این مساله را بیشتر کالبد شکافی کنید و در این زمینه، مثال کوچکی بدهید؟

استاد مهوش: مرحلهء درکی زمانی در عرصهء موسیقی به وجود می آید که امیزش موسیقی با شعر صورت می گیرد. به گونهء مثال وقتی که زمزمه می کنیم:

بشنو از نی چون حکایت می کند
از جدایی ها شکایت می کند

(استاد با اواز جاودانه اش این بیت را زمزمه می کند) این امیزش شعر با موسیقی، افزون بر مرحلهء حسی بودن، مرحلهء درکی را نیز در ذهن شنونده تداعی می کند و موسیقی، چاشنیی برای تاثیرگذاری بیشتر شعر در مرحلهء درکی ان می شود.

اما وقتی شما صدای ( آ، أ، آ) و یا «سرگمی» را از حنجره تان بیرون می کشید، این «أ» و« سرگم »به خودی خود مفهوم درکی ویژه را از لحاظ معنایی و فهمایی ارائه نمی دهد؛ ولی برعکس، حس عجیبی را در وجودتان بیدار می کند و در ذهن و روان شما تأثیر می گذارد.

با توجه به همین مسأله است که هنر موسیقی، در یک مرحله، زمینهء درکی پیدا می کند و در مرحلهء بعدتر، حسی می شود.

- به کدام راگ ها بیشتر علاقه دارید؟

- استاد مهوش: راگ {درباری، یمن و بیروی} را به خاطر عظمت بی همتایش بسیار دوست دارم ؛ ولی از جملهء راگ های تراژیدی به {سونی ، شیوار ، نجنی و بیرو} علاقهء وافر دارم.

- چرا به راگ های تراژیدی دلچسپی خاصی دارید، آیا می تواند عامل مشخصی داشته باشد؟

- استاد مهوش: ببینید، راگ های تراژیدی و راگنی های مشتق شده از نفس این راگ ها، حالت تزکیهء عجیبی را برای آدم می دهد. با توجه به مقولهء تراژیک در موسیقی، لذت تلخ اما غیر قابل وصفی دارد.

- تراژیدی، انسان را برای درک و حس مشترک دردهای دیگران آماده می سازد. موسیقی تراژیک به نظر من، نقطهء گره خوردن عواطف هنرمند با مخاطبان است.

- تا چه حد بحث مقولهء هنر برای هنر را می پذیرید؟

- استاد مهوش: من برعکس این مسأله می اندیشم. به نظر من هنر در خدمت مردم و اجتماع باید باشد؛ زیرا هنر و هنرمند، موجود برخاسته از خود اجتماع است و چیزی هم فراتر از خدمت به اجتماع و مردم وجود ندارد. اما یاد ما باشد که این تأکید به معنای (عوام زده گی در هنر) نیست، بلکه به مفهوم برقراری ارتباط دو طرفهء هنر و هنرمند، با مردم و جامعه است.

- در مورد کسانی که از روش و شیوهء شما در هنر موسیقی پیروی یا به نحوی (تقلید) می کنند، چگونه می اندیشید، آیا از این تقلید و دنباله روی راضی هستید و یا نه ؟

- استاد مهوش: من به تعبیر عوام، خاک پای همه هنرمندان هستم. به نظر من، هر هنرمندی، با توجه به ویژه گی های هنری کارش، قابل تحسین است. هر که اگر به تعبیر شما از من پیروی می کند، برایم مایهء مباهات و افتخار است. هنر منحصر به فرد، گروه، قوم و یا ملت خاصی نیست. از دید من هر آوازخوان و هنرمندی، مخاطبان و علاقمندان ویژهء خود را دارد. هیچ کس، همه کس نیست، هر کس با خودش و برای مخاطبانش مطرح است. مهم این است که هر که علاقمند خاص خود را دارد.

- وضعیت کنونی موسیقی کشور را چگونه یافته اید؟

- استاد مهوش: مثل هر بخش زنده گی، هنر موسیقی نیز متأثر از تحولات سه دههء اخیر بوده است؛ اما چیزی که برایم در پهنهء موسیقی افغانستان نوید بخش است، حضور چهره های جدید در عرصهء موسیقی است. جوانان امروز، با پشتکار بسیار به هنر موسیقی رو آورده اند؛ اما چیزی که می تواند مکمل این یادگیری و پشتکار باشد، ریاضت و تحمل مشقات زیاد در این زمینه است؛ زیرا افزون برداشتن ذوق، تحمل مشکلات و فایق آمدن بر ناملایمات، پیروزی دیگری در عرصهء فراگیری موسیقی، پنداشته می شود.

برای رشد و گسترش هنر موسیقی، چه طرح ویژه یی را پیشنهاد می کنید؟

استاد مهوش: اتکا بر ارزش های هنر اصیل موسیقی کشور و توجه به معرفی این هنر اصیل در پنج قارهء جهان، یکی از پیشنهادات من است.

جناب استاد در پایان گفتگو به عنوان پایان خوب، می خواهم غزلی را زمزمه کنید؟

استاد، حنجره اش را صاف می کند و با صدای گرمش آرام می خواند:

گفتی غزل بگو، چه بگویم؟ مجال کو؟
شیرین من، برای غزل شور و حال کو؟
پر میزند دلم به هوای غزل، ولی
گیرم هوای پر زدنم هست، بال کو
گیرم به فال نیک بگیرم بهار را
چشم و دلی برای تماشا و فال کو؟
تقویم چهار فصل دلم را ورق زدم
آن برگهای سبز سرآغاز سال کو؟
رفتیم و پرسش دل ما بی جواب ماند
حال سوال و حوصله قیل و قال کو؟"

سپاس فراوان از شما استاد!

استاد مهوش: از شماهم تشکر به پایان آمد این دفتر حکایت هم چنان باقی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دافغانستان ملی راډیو

# به په ټوله نړی کي




# د اوریدولو وړوي

ل : احمدزی

د افغانستان ملی راډیو د هیواد یواځینی ملی رادیو ده چې د ۷۰ کلن خپرنیزی مخینې په لرلو سره زیات شمیر اوریدونکې او بې شمیره خلک په تیره بیا د افغانستان په ولایتونو کې زیات مینه وال او اوریدونکي لری.

رادیو یواځینی دستگاه ده چې خلک کولای شی له هغه څخه په ډیره آسانه او ارزانه توگه استفاده وکړی او د هیواد د مهمو پیښو او تولنیز، ادبی، اقتصادی، ذوقی او نورو برخو په هکله د راډیو د څپو څخه خپروني واوري.

په دی وروستیو کې د افغانستان ملی راډیو لاربنونکي پلاوی او کارکونکي په دی هڅه اوهاند دی چې خپروني له پخوا څخه با کیفیته او حینی نوی خپروني منځته راوړی ترڅو هیوادوال وکولای شی له ملی راډیو څخه په سمه توگه گټه واخلی، په دی هکله مو وغوښتل چې د رادیو افغانستان د رئیس ښاغلي عبدالغنی مدقق سره دخپرونو په هکله خبري ولرو. نوموړی ځومیاشتی کیږی چې د افغانستان ملی راډیو د رئیس په توگه وټاکل شو او په دی لنډې مودی کې یې د یادوني وړ او گټور کارونه ترسره کړی دی.

پوښتنه: ښاغلي مدقق که تاسی مهربانی وکړی د افغانستان ملی رادیو د خپرونو د بهیر په هکله یو څه معلومات راکړی؟

ځواب: رادیو افغانستان یوه ملی رادیو ده او په هیواد کې د ډیر ارزښت خاونده ده ځرنگه چې افغانستان گڼ قومی هیواد دی نو باید د ټولو ملیتونو ذوق، سلیقی، غوښتنی او د هر یو په ژبو خپروني ولرو. مونږ تر زیاته حده دغه ټکی ته پاملرنه کوو. په لومړی سر کې د راډیو افغانستان او راډیو کابل خپروني چې په لنډه وقفی سره یې گډ نشرات درلودل، سره بیل او په جلا فریکونسیو سره یعنی د راډیو افغانستان خپرونی د سهار له پنځو تر دولس بجو د شپی او د راډیو کابل خپروني د سهار له اوو څخه تر اتو بجو د شپی خپروني لری.

دا باید وویل شی د افغانستان په ټولو ولایتونو کې رپوټ ورکونکی ټاکل شوی دی چې هر ورځ خبرونه او مهم رپوټونه برابر او د راډیو افغانستان څخه یې خپروو. همدارنگه د خپرونو ځینې زیگنالونه چې په بهرنی موسیقی خپریدل ټول مو په هیوادنی او افغانی موسیقی ثبت کړل. او ځینو خپرونو د خپریدلو هڅه مو په ژوندی یا مستقیم ډول وکړه لکه د خلکو غږ (صدای مردم) په اوونی کې دری ځلی خپریده اوس د اوونی په شپږو ورځو کې په ژوندی توگه خپریږی. بله خپرونه د سه شنبه په ورځ د لسو تر یولسو بجو د سهار په مستقیم ډول خپریږی، په دغه خپرونه کې دولتی چارواکو ته بلنه ورکول کیږی چې ستدیو ته راشی او د اوریدونکو پوښتنو ته ځوابونه ووایې. تر اوسه پوری د برق، د لوگر ولایت د مسو د کان په هکله او ځینې نور مهمو موضوعاتو باندی خبری او بحثونه تر سره شوی. همدارنگه د یکشنبی په مازدیگر د پنځو تر شپږو بجو پوری (نشست هفته) خپروني په نوم خپریږی چې د هیواد په بیلابیلو مسالو په هکله خبری کیږی دغه تولی خپروني د افغانستان ملی راډیو د اطلاعاتو د اداری لخوا څخه خپریږی.

ځینی نوری خپروني لکه (میراث های گرانبها) چې د هیواد په بیلا بیل تاریخی آثار پیژندل دی د هیواد د تاریخی آثارو په هکله څیړنی او د تاریخی ارزښت په هکله راټول شوی معلومات او د هماغه د سیمی له خلکو سره مرکې په دی اړه چې د کیسی په ډول ځرگندونې کوی په پروگرام کې نشر کیږی. او ځینی نوری خپروني دی چې په نژدی راتلونکې کې به د راډیو څخه خپری شی.

د راډیو کابل اداری لخوا ځینی خپروني هم په ژوندی توگه خپریږی لکه: غرمه مونیکمرغه، ترانه ها و سخن ها، حرف خوش آهنگ خوش خپروني دی.

پوښتنه: لکه ځرنگه چې اوریدل کیږی د هیواد د خصوصی او آزادو راډیوگانو له څپو او خپرونو څخه ډیرلږ دینی مسالو ته توجه شوی ده تاسی کومی خاصی خپروني په دی هکله لری؟

